**د کډوالو او ادغام (په ټولنه کې د غړی کیدلو) لپاره مشورتي شورا څه شی دی؟**

مشورتی شورا د ینا (Jena) دښار دټولو هغه اوسیدونکو غږ دی، چه بهرنیان او کډوال دي.
مشورتی شورا د ۹ منتخبو غړو څخه جوړه شوې ده، چه د ۵ کلونو لپاره انتخابیږي او په رضاکارانه توګه کار کوي.

**د مشورتي شورا دندې څه دی؟**

- ښاری شورا ته مشوره ورکول.
- د نظر ورکول، د ټولو موضوعاتو په اړه چه د ادغام د سیاست (په ټولنه کې د غړی کیدلو) پوری تړاو لری، البته د ینا (Jena) په ښارکې.
- د ښاری شورا او د هغه خلکو تر منځ چه د کډوالی سابقه لری، داړیکو ښه کوول.
- په ښار کې د شبکو جوړولو ته وده ورکول.
- د یو ځای ژوند کولو د مساواتو سطحی ته وده ورکول.
- د مشورتی شورا د غونډو جوړول، ۴ ځلی په یو کال کې.
- د مشورتی شورا د غړو ګډون په بیلابیلو شبکو او کمیټو کې.
- د نظرونو ترتیبول.
- مشوره ورکول.

**څوک کولای شي ټاکنې وکړی؟**

هغه وګړي چې د ۳ میاشتو راهیسی او یا له دی نه ډیره موده د ینا (Jena) په ښارکې اوسیږی.
هغه څوک چې د ۲۰۱۹ عیسوی کال د دسمبر د میاشتی په ۳ نیټه د ۱۸ کلنی عمر ته رسیږی او یا یی عمر د ۱۸ کلن څخه زیات وی.
څوک چې بهرنی تابعیت لری او یا د کډوالی سابقه لری، دمثال په توګه د المان تابعیت یی تر لاسه کړی، یا څوتابعیته دئ او یا دا چې مور او پلار یي د بهر څخه راغلی دي.

**ټاکنې څه رنګه تر سره کیږي؟**

ټاکنې د لیک د رایی ورکولو د لیاری تر سره کیږي. د ټاکنو لپاره ټول مستحقین د رایی ورکولو په فهرست کې ثبت کیږي.

څوک چې د رايي ورکولو په فهرست کې ثبت وې، درايي ورکولو پاڼې د د پوستی د لیاری تر لاسه کوی. که چیری څوک د رایی ورکولو مستحق وی او سره له دی هم د رایی ورکولو پاڼې تر لاسه نه کړی، نو کولای شی چی د ۲۰۱۹ عیسوی کال د نومبر د میاشتی تر ۲۲ نیټی پوری خپل ځان د ټاکنو لپاره په فهرست کې ثبت کړې. د رایی ورکولو پاڼی باید ډکې شی.
دغه ۳ رايي کولای شی چه یو نوماند، دوه نوماندانو او یا دری نوماندانو ته ورکړل شی. د نوماندو په اړه معلومات کولای شی د ۲۰۱۹ عیسوی کال د نومبر د میاشتی د ۴ نیټی نه وروسته د لاندینی انټرنتی ادرس نه تر لاسه کړی.
https://wahlen.jena.de/migrationsbeirat
ټاکنیزې پاڼې کولای شی په وړیا توګه د پوستی د لیاری د ټاکنو دفتر ته راولیږی. د رایی ورکولو پاڼه باید د ۲۰۱۹ عیسوی کال د دسمبر د میاشتی تر ۳ نیټی وروسته د غرمی تر ۶ بجو پوری راورسیږی.

**څوک کولای شی چی نوماند شي؟**

مشورتی شورا د نویوغړو په لټه کې ده، هرڅوک چی یی هیله لری، نو کولای شی چې درخواستی وکړی.
نوماندان باید لاندی ټکي په پام کې ونیسی:

- نوماندان باید د ۳ میاشتو راهیسی او یا له دی نه ډیر موده د ینا (Jena) په ښارکې واوسیږی.
- د نوماندانو عمر باید یا ۱۸ کاله او یا له دی څخه زیات وی.
- نوماندان باید یا یو بهرنی تابعیت ولری او یا هم هغه خلک وی چی د کډوالی سابقه ولری.

**نوماندان څه وخت او چیری کولای شی خپل نومونه ثبت کې؟**

پته:

Wahlbehörde
Bürgerservice Jena
Löbdergraben 12
07743 Jena

د کار وختونه:
د سه شنبه ورځ د ۲۰۱۹ کال د ۱۰ میاشتی په ۲۲ نیټه، د سهارد ۹ بجو نه د مازیګر تر ۶ بجو
دچهارشنبه ورځ د ۲۰۱۹ کال د ۱۰ میاشتی په ۲۳ نیټه، د سهارد ۹ بجو نه دغرمی تر ۱ بجی
د پنجشنبه ورځ د ۲۰۱۹ کال د ۱۰ میاشتی په ۲۴ نیټه، د سهارد ۹ بجو نه د مازیګر تر ۶ بجو
د جمعی ورځ د ۲۰۱۹ کال د ۱۰ میاشتی په ۲۵ نیټه، د سهارد ۹ بجو نه دغرمی تر ۱ بجی

**اړیکې د پوښتنو په صورت کې:**

Büro für Migration und Integration der Stadt Jena
Saalbahnhofstraße 9
07743 Jena
Telefon: 03641-492632
Email: neu@jena.de